مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مومند محمدي اخېر ۲۰۲۱/۰۱/۰۸

بسم الله الرحمن الرحيم

# نېشنلېزم او په نني عصر کې د هغې اړتيا

**د پيل څو ټکي:**

لاندې ليکنه چې زما پر فېسبوک پاڼه هم په دريو برخو کې خپره شوه؛ په لومړيو کې مې غوښتل چې فقط د نېشنليزم د نظريې په اړه له دې امله يو لنډ تحليل وليکم چې يوه ورور د اسلام له نظره نومړې مفکوره په بشپړ ډول نفي کړې وه، خو ځينو داسې کسانو چې اسلام ته يې د دين پر ځای د سياسي ايډيولوژۍ په سترګه کتل زما د تحليل په مقابل کې حساسيت وښود او اوږد بحث يې راسره وکړ، نو زه يې اړ ايستلم چې د موضوع په اړه د لنډ تحليل وړاندې کولو پر ځای اکاډيميک بحث وکړم او نومړی تحليل دريو برخو ته ورسيږي چې دا دی په لاندې ډول درې واړه برخې په يو وار خوږو لوستونکو ته وړاندې کوم:

**لومړۍ برخه:**

د فيسبوک په (سالم فکر وکړئ) ګروپ کې يوه دوست د نېشنلېزم د مفکورې په اړه يوه ليکنه خپره کړې ده چې دا نظريه يې پکې رد کړې او مردوده يې بللې ده. متاسفانه نومړي نېشنلېزم؛ تعصب بللی او پر نېشنليزم يې د فاشېزم ټولې ځانګړنې ورتپلې دي.

لومړی بايد دا واضحه کړو چې د پښتنو له نېشنلېزم سره تر ټولو سخته د ښمني د پاکستان ده او نومړی رياست تل دا هڅه کوي چې په يوه او بله بهانه د نېشنلېزم اصلي څېره له خلکو پټه وساتي او تر ډېره د دې کار لپاره د خلکو له ديني احساساتو څخه کار اخلي.

نومړي ورور چې څرنګه نېشنلېزم تعريف کړی په حقيقت کې داسې نه ده، دی اشتباه کوي او په خپله څېرنه کې تېروتی دی.

د پورته ادعا لپاره لاندې دلايل وړاندې کوم او په لنډ ډول فقط د تبصرې په ترڅ کې نېشنلېزم درپېژنم:

نېشنلېزم چې په پښتو کې توکم پالنه ورته وايو د يوه قوم د حق غوښتنې پر نظريه ولاړ دی او هيڅکله په دې مانا نه دی چې يو قوم دې خپل رنګ او ژبه له بل قوم څخه لوړه وبولي. کله چې يو قوم دا ادعا وکړي چې ژبه او رنګ يې له بل قوم څخه بهتر دی نو دا د فاشېزم نظريه ده چې د جرمني نازيان، د موسوليني په مشرۍ د ايټاليا امپراتوري، په دويمه نړيواله جګړه کې ښکېله د جاپان امپراتوري، د عربو د بعث ګوند، د يهودانو صهيونيزم، د ايران فارسيزم او ځيني نورې ډلې پر دې نظريه ولاړې دي.

د فاشيزم نظريې د دويمې نړيوالې جګړې په رامنځته کېدو کې هم خپل رول درلود.

خو نيشنلېزم د توکم پالنې داسې نرمه نظريه ده چې کله کوم قوم له خپلو خدای ورکړو حقونو څخه بې برخې وي نو پر بنسټ يې د ترلاسه کولو لپاره مبارزه کوي. په امريکا کې د تورپوستو لپاره د حق غوښتنې مبارزه د نيشنلېزم يو ډول و. کله چې د کوم قوم ژبه، کلتور او ارزښتونه د بل تر تېري لاندې وي نو د نېشنلېزم په وسيله داسې تېري دفع کيږي، د بېلګې په ډول په پښتونخوا کې د پښتنو د ژبې او کلتور د له منځه وړلو لپاره د پنجاب رياست له هر ډول وسيلې او له ستم څخه د ډک فاشيزم څخه کار اخلي، خو په مقابل کې يې د باچا خان بابا عليه الرحمة څخه نېولې تر منظور پښتين حفظه الله پورې د نيشنلېزم يا قامي حق غوښتنې د حرکتونو په وسيله پر وړاندې مبارزه کيږي.

په پښتونخوا کې د پښتنو بچو ته په اردو ژبه او په کابل کې د پښتنو بچو ته په درې ژبه درس ښوول نانصافي ده او کله چې په پښتونخوا او کابل کې د پښتنو بچو ته په پښتو ژبه د سبق ښودلو لپاره مبارزه وشي نو دا نېشنلېزم شو چې له تعصب او فاشېزم سره ښکاره توپير لري. خو که په ګردېز کې فارسي ژبو بچو ته په پښتو ژبه سبق ښودلو باندې ټينګار وشي نو دا بيا تعصب، فاشيزم او ظلم دی.

اوسمهال د ډيورنډ د کرغېړنې کرښې دواړو لورو ته پښتانه د هر ډول ظلم او وحشت ښکار دي چې د ژغورنې لپاره يې پر نېشنليستي نظريه عمل کول ډېر مهم دي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ

**دویمه برخه**

**څو مقدماتي خبرې:**

کله مي چي پر خپل فیسبوک د دې لیکني لومړۍ برخه خپره کړه نو د نېشنلېزم ضد ځینو دوستانو له غبرګون سره مخ شوم او د دې لیکني د لومړۍ برخي په تبصرو کي مو اوږد بحث ورباندې وکړ.

ما فقط غوښتل چي دا لیکنه د یوې تبصرې تر بریده وي او ډېر تخنیکي وړاندې پکي ولاړ نشم چي اوږده او ستړې کوونکي نه شي، خو د ملګرو بحثونو زه دې ته اړ ایستم چي د لیکني پر متن سربېره څو «اضافي خبرې» هم وکړم.

زما او د ملګرو ترمنځ چي کوم بحث وشو دوی له ما څخه د سرچینو پوښتنه وکړه چي سرچیني مي هم ورسره شریکي کړې، خو کله مي چي له دوی څخه د سرچینو غوښتنه کوله نو د خپلو ادعاوو د پخلي لپاره یې کومه سرچینه راته وړاندې نکړه او تر ډېره یې بحث د علمي بنې پر ځای عاطفي بڼه درلوده.

ما د موضوع په اړه لا نوره پلټنه هم وکړه او په ترڅ کي مي یې دا محسوس کړه چي له کوم نېشنلېزم څخه دوی وېره لري هغه د ښي اړخي یا افراطي نېشنلېزم په نوم یادیږي، خو کوم نېشنلېزم چي ما یې پخپله لیکنه کي په اړه خبرې کړي، چپ اړخی، لیبرال یا طبیعي نېشنلېزم بلل کیږي، چي دا ډول نېشنلېزم د قومونو په ځانګړي ډول د ملي دولتونو لپاره ډېر اړین دی.

هغه دوستان چي په بحث کي یې ګډون کړی و او غواړي پر لیکنه علمي نقد وکړي نو د لیکني له متن وروسته تعلیق دې هم ولولي.

خو هغه دوستان چي غواړي یوازې معلومات حاصل کړي او د اوږدو لیکلو د لوستو حوصله نه لري فقط د لیکني د دویمي برخي متن دې ولولي.

**د لیکني د متن دویمه برخه:**

نوموړي ورور د اسلام له نظره هم نېشنلېزم رد کړی او حرام یې بللی دی او د تعصب له ټکي سره یې په قوس کي نېشنلېزم لیکلی و. یو خو باید د حرامو او حلالو په مسئله کي جدي احتیاط وشي، دا د خدای حد دی او د دې ماتول لوی جرم دی، نو پخپل سر او یا د آیتونو او احادیثو د تحریف په ترڅ کي د یو څه حلال او حرام بلل د خدای له حکم څخه سرغړونه ده.

خو زه په دلایلو سره وایم چي توکم پالني ته اسلام ارزښت ورکوي او توکم پالنه په دین کي روا ده، د بېلګي په توګه کله چي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د ښکاره دعوت امر کېده نو ورته وویل شول چي تر ټولو لومړئ خپله کورنۍ او قبیله د اسلام په لور وبوله، لکه چي فرمایي:[[ وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ]] ژباړه:(خپل ډېر نږدې خپلوان [د الله له عذاب څخه] وېروه)(الشعراء: ۲۱۴).

همدارنګه په مکه کي د هر ډول اذیت پر منلو سربېره هم ۱۳ کاله قریشو ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم بلنه په اسلام کي د خپل قوم لپاره د خیر ښیګڼي او حق غوښتني (نېشنلېزم) د نه یوازې روا والي بلکه پر اړینتوب هم دلالت کوي.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ژوند کي یوه بله ډېره په زړه پوري پېښه چي له نېشنلېزم سره اړیکه لري هغه مدیني ته هغه علیه الصلوة والسلام هجرت و، په داسي حال کي چي د هجرت په ترڅ کي د مسلمانانو لپاره تر ټولو امن ځای حبشه وه، خو دا چي د هغه ځای اوسېدونکي عرب نه وو او لکه څرنګه چي هر انسان ته اړینه ده تر نورو وړاندې د خپل قوم خیر او ښېګڼه وغواړي نو الله تعالی د حبشي پر ځای مدیني یاني هغه ځای ته د هجرت امر ورته وکړ چي هلته عرب یاني د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ژبي خلک اوسېدل.

پر دې سربېره د رسول الله صلی الله علیه وسلم له وفات څخه وروسته په سقیفه بني ساعده کي د ابوبکر الصدیق رضي الله عنه ټاکنه هم نېشنلیستي بڼه لري چي د اوسي یا خزرجي پر ځای د یو قریشي پر ټاکنه ټینګار کېده.

له راشده خلافت څخه وروسته د اسلام په لمن کي منځلاری نېشنلېزم د تعصب تر حده ورسېده چي د اموي خلافت د رامنځته کېدو لامل شو، د اموي خلافت په ټوله دوره کي عرب پر عجم لوړ بلل کېدل او په عربي ادب کي نوموړې دوره عربي ژبي ته توجه له ځلاندو دورو څخه بلل کیږي. د اموي خلفاوو تعصب د دې سبب شو چي نور مسلمان توکمونه د خپلو حقونو د ترلاسه کولو لپاره په(نېشنلیستي) مبارزو لاس پوري کړي چي په ترڅ کي یې د ابومسلم خراساني د بغاوت په پایله کي د امویانو لمن ټوله شوه.

عباسي خلافت بیا په دوو دورو وېشل کیږي؛ لومړنۍ دوره یې چي د اسلام د تاریخ له ځلاندو دورو څخه بلل کیږي چي د نېشنلیستي مبارزو په ترڅ کي ترلاسه شوې وه او ټولو ژبو، قومونو او توکمونو ته پکي درناوی کېده. په عربي ادب کي دا دوره د ترجمي د دور په نوم هم یادیږي؛ په دې مانا چي هغه مهال مسلمانانو د ژبي او فکر ازادي خوره کړه او له نورو ژبو څخه عربي ژبي ته پرېمانه اثار وژباړل شول.

خو د عباسي خلافت دویم دور بیا هم له منځلاري نېشنلېزم څخه د تعصب په لور روان شو، په دې دور کي بیا عجم پر عربو لوړ بلل کېدل او تر ډېره دربار د ترکي پوځي سردارانو په لاسونو کي و چي ترک توکم او ژبي ته یې ډېر ارزښت ورکاوه.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

عباسي دولت دومره وشړېده چې په منځ کې يې نور لوی سلطنتونه رامنځته شول چې هر چا ځانته ژبه او فرهنګ غوره کړ، بالاخره عباسي خلافت په ۶۵۶هجري کال د مغولو په لاسونو وران شو.

**تعليق:**

د نېشنلېزم لغوي تعريف:

- ملت پرستي، د ملت پرستانو سياسي مکتب [پښتو- پښتو تشريحي قاموس، ۴ټوک].
- ملت خواهی [فرهنګ فارسی عميد، ۲ټوک].

- The desire by a group of people who share the same race, culture, etc. to from and independent country.
A feeling of love for and pride in your country; a feeling that your country is better than any other. [Oxford dictionary].
- A nation`s wish and attempt to be politically independent. A great of too great love for you own country. [Cambridge dictionary].
- ideology based on the premise that the individual’s loyalty and devotion to the nation-state surpass other individual or group interests. [Britannica encyclopedia]

د نېشنلېزم اصطلاحي تعريف:

- نېشنلېزم د خپل ولس او د خپل تاريخ، جغرافيې، اقتصاد، مقدساتو او کلتور سره مينې درلودلو ته ويل کېږي.
نېشنلېزم د خپل ولس ملي خپلواکی، ملي واکمنی، ځمکنی بشپړتيا، ملي پرمختګ، ملي هوسايني او ملي عادلانه ژوند سره مينه درلودلو ته ويل کېږي. [سياسي مکتبونه، د فرهاد داوري].
- ناسيوناليسم سياسی که منظور همان ازادی و استقلال هر کشور است د در درون مرز خود که هر رژيم حکومت و هر نوع قوانين و مقرراتي که ميل دارد برای خود انتخاب نمايد.
ناسيوناليسم ليبرال عبارت از يک نيروی بانی بود، زيرا کوشش ميکرد که اقليتها را با اکثريت، وملل مختلفه مقيم يک منطقه را با يکديگر جوش دهد و همه را شريک در يک زندگی فرهنگی و سياسی نمايد. [مکتبهای سياسی، داکتر بهاء الدين پازارګاد]
- (نېشنلېزم د باچا خان عليه الرحمه په اند)... ما کې چې د قام پرستۍ کومه ماده وه هغه راوېښه شوه... خو د مخفي صاحب، مولوي عبدالعزيز صاحب او مهتمم صاحب په مجلسونو کې يې وده وکړه... د مطالعې لپاره به مې د مولانا ابوالکلام ازاد الهلال اخبار کتو چې يو عالمانه اخبار او هر مضمون به يې د علم نه ډک و او د ازادی او حريت علمبردار و... زميندار اخبار د مولانا ظفرعلي خان اخبار او ډېر قام پرست اخبار و... ولې چې دا دواړه اخبارونه قام پرست وو، قام يې راويښاوه او پوهاوه او قوميت او جرات يې پکې پيدا کاوه. [زما ژوند او جدو جهد، باچا خان]
- وتهدف القومية أيضا نحو تطوير والحفاظ علي الهوية الوطنية القائمة علي الخصائص المشتركة مثل الثقافة واللغة والإثنية والدين والأهداف السياسية أو الاعتقاد في السلف المشترك. [ويکيبديا، الموسوعة الحرة]
- ملی‌گرايی يا ناسيوناليسم (به فرانسوی: Nationalisme) يک ايده و جنبش است که هدف آن ترقی بخشيدن منافع يک ملت است.[۱] ملی‌گرايی نوعی آگاهی جمعی است، يعنی آگاهی به تعلق به ملت که آن را «آگاهی ملی» می‌خوانند. آگاهی ملی، اغلب پديدآورنده حس وفاداری، شور و دلبستگی افراد به عناصر تشکيل‌دهنده ملت (نژاد، زبان، سنت‌ها و عادت‌ها، ارزش‌های اجتماعی، اخلاقی، و به‌طور کلی فرهنگ) است. [ويکيپيديا، دانشنامه آزاد].

- Nationalism is an idea and movement that promotes the interests of a particular nation (as in a group of people),[۱] especially with the aim of gaining and maintaining the nation's sovereignty (self-governance) over its homeland. Nationalism holds that each nation should govern itself, free from outside interference (self-determination), that a nation is a natural and ideal basis for a polity[۲] and that the nation is the only rightful source of political power (popular sovereignty).[Wikipedia the free encyclopedia].


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

- Nationalism is an ideology that emphasizes loyalty, devotion, or allegiance to a nation or nation-state and holds that such obligations outweigh other individual or group interests. [Britannica encyclopedia]

**درېيمه او وروستۍ برخه**

**څو مقدماتي خبرې:**

هغه دوستان چې د ليکنې پر لومړۍ برخه يې له ما سره بحث کړی و دې ته تيار نشول چې د ليکنې دويمه برخه هم ولولي، دوی دا دليل ويلو چې ګواکې زما د ليکنې لومړۍ برخه يې راته درې ورې کړه، په داسې حال کې چې که تاسو د ليکنې د لومړۍ برخې په تبصرو کې له دوی سره زما شوی بحث وګورئ نو دوی هيڅ کوم قانع کوونکی دليل نه لري. فقط يوه ملګري مصدق امين له «بريټانيکا» پوهنغونډ څخه زما پر را اخيستل شوي د نېشنلېزم تعريف ته ګوته ونيوه. نوموړي د خپلې خبرې د پخلي لپاره په دې اړه پوسټ هم کړی دی او د خپل دليل د پخوالي لپاره يې د [merriam-webster] په بريټانيکا پسې اړونده سرچينه هم ذکر کړې ده او زما پر ليکنه د رد لپاره يې خپل دلايل ليکلي دي په داسې حال کې چې ما د نېشنلېزم په تعريف کې له پورته سرچينې څخه هيڅ استفاده نه ده کړې، خو پر دې سربېره هم ما د نوموړي د پوسټ په تبصرو کې د خپلې ليکنې د دويمې برخې لېنک واچاوه چې د نوموړي د پوسټ رد هم ورباندې کېده، خو هغه يې له لوستلو څخه انکار وکړ او يوازې د خپل شوي پوسټ لاندې يې د بحث غوښتنه کوله. پر دې سربېره دوی له ما څخه د لومړۍ برخې په تبصرو کې هم د بحث د دوام غوښتنه وکړه، خو دا چې هغه بحث پر علميت نه و ولاړ، دوی يوازې د خپلو عواطفو له امله هر څه ويل او بحث بې له وخت ضايع کولو کومې پايلې ته نه رسېده نو ما هم له بې ځايه بحث څخه ډډه وکړه.

په هغو دوستانو کې يوه درونډ مشر حتی لطف وکړ، ما ته يې پر مسنجر زنګ وواهه وکړ او پوره يوه ګړۍ بحث مو وکړ چې ما ډېر څه ترې زده کړل او ډېر له مهربانۍ څخه ډک چلند يې وکړ چې ډېر ترې منندوی يم، خو بيا يې هم فقط همدا ټينګار کاوه چې له نېشنلېزم څخه بايد دفاع ونه کړم. د نوموړي د مهربانۍ او خواږه چلند پوروړی يم، خو بيا هم د نوموړي مشر له تحليل څخه دې پايلې ته ورسېدم چې له نورو ايډيولوژيو سره يې د عواطفو له امله څه عقده يې فکر درلود.

نو له دې ملګرو څخه غوښتنه کوم چې زما ليکنه بشپړه ولولي او بيا رد ورباندې وړاندې کړي، که ما ناسم تحليل کړی وي او دوی مقنع او پر علمي بنسټونو ولاړ دلايل ولري نو زه به له خپلې خبرې تېر شم.

په هر صورت، تاسو د ليکنې د وروستۍ برخې لوستلو ته رابولم.

**د ليکنې د وروستۍ برخې متن:**

نوموړي ورور پخپله ليکنه کې عثماني خلافت ته اشاره کړې ده چې ګواکې تر چتر لاندې يې د ټولو مسلمانانو حقونه خوندي وو، خو په عربي ادب کې د عثماني خلافت دوره د عربي ژبې او ادب تر ټولو تياره دوره بلل کيږي؛ د عثماني خلافت په دوران کې عربي ژبه په شديد ډول ځپل کېده او ترکي ژبې ته له تعصب څخه ډک کار کېده. هغه مهال ترک توکم له نورو توکمونو لوړ بلل کېده او ترکي کلمې عربي، فارسي او د عثماني خلافت تر قلمرو لاندې نورو ډېرو ژبو ته ننوتې، شايد تاسو هم د «چي» او «باشي» وروستاړي اورېدلي وي چې حتا په پښتو کې هم کله کله کارول کيږي لکه: «باورچي».

د عثماني خلافت په دور کې که د عربي ژبې ادبي اثار ولولو نو تر نيمايي له ترکي کلماتو ډک دي.

ځکه خو د عثماني خلافت دوره بايد د برابرۍ او نېشنلېزم څخه تشه دوره ونه بلل شي، بلکې په هغه دور کې ترک پالنه د فاشېزم تر حده رسېدلې وه.

په معاصر دور کې د اروپا له رنسانس څخه وړاندې که له يوه لوري فيوډاليزم ټولنه ځپله له بل لوري د کليسا له تشدد څخه ډکه واکمنۍ هم خوره وه، د رنسانس په راتلو سره په يو شمېر اروپايي هېوادونو کې نېشنليزم وټوکېده او ورو ورو د ملي دولتونو (Nation States) د راپنځېدلو سبب شو. کله چې په اروپا کې فاشيزم حاکم و او د ملتونو پر حقونو يې تېری وکړ نو دوی د فاشېزم په مقابل کې له خپلو قومونو او ژبو څخه دفاع وکړه، هلته هر قوم د ځان لپاره دولت جوړ کړ، پرمختګ يې وکړ او په پای کې همدا نېشنلېزم د ټولې اروپا د يو ځای کېدو او د اروپايي ټولنې د رامنځته کېدو سبب شو. يانې کله چې هر قوم خپل بشري حقونه ترلاسه کړل او ټولنيز مشکلات يې حل شول، هر ملت دې پايلې ته ورسېد چې د بل ملت حق ته درناوی وکړي نو د ډېرو قومونو اتحاد ته يې اړتيا پيدا کړه او د اروپايي ټولنې د رامنځته کېدو سبب شو چې نن ورځ په نړۍ کې نوموړي قومونه د تر ټولو ښه ژوند خاوندان دي.

همدارنګه په هغو شرقي هېوادونو کې چې استعمار پکې واکمن و نېشنلېزم د دې سبب شو چې ولسونه يې د ازادۍ لپاره مبارزه وکړي او خپل هېوادونه د پرديو له واکمنۍ څخه وژغوري.

پر دې سربېره د نوې نړۍ هېوادونه (هغه هېوادونه چې په معاصر دور کې د امپراتوريو لخوا کشف شول او خلک وروکوچېدل) چې هلته د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه د ژوند کولو لپاره خلک ځي نېشنلېزم ډېر اړين دی او هر قوم په



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

نومورړو ټولنو کې د خپلو حقونو د ترلاسه کولو لپاره مبارزې ته اړتیا لري او هغو قومونو چې دا مبارزه کړې ده خپل حقوق يې ترلاسه کړي دي، لکه په امریکا کې د توروپوستو، بومي امریکایانو، چیني امریکایانو، د جنوبي امریکا اوسیدونکو او نورو لویو او وړو قومونو مبارزې د یادولو وړ دي.
نو د پورته بحث په پایله کې موږ ویلی شو چې نیشنلیزم نه یوازې روا دی بلکې اړین هم دی! او هغه وړور چې پخپله لیکنه کې يې نیشنلیزم له کومې زاویې ټکولی هغه ځانګړني اکثریت د فاشیزم په نظریه کې راځي.
د (سالم فکر وکړئ!) ګروپ له درنو چلوونکو هیله من یم چې په دې ګروپ کې د اسلام دین ته دعوت وکړي، پر ملحدانو رد وړاندې کړي او د دین میانه روۍ په پام کې ونیسي.
نوموړی ګروپ د ملحدانو په مقابل کې د ځو سرښندونکو او اورژبو اسلامي مدافعینو په څو جوړ شوی و، په لومړیو کې يې فعالیت ډېر ښه روان و خو اوس زه وینم چې هلته دین د ایډیولوژۍ په ښه تعریفیږي او له دین څخه پر زیاترو ناسمو تعبیرونو ټینګار کیږي.
اسلام کومه کوچنۍ سیاسي نظریه نه ده، بلکې دا یو پراخ دین دی او د داسې بنسټونو خاوند دی چې تر قیامته به هر ډول پرمختګ ته پخپله غیږ کې ځای ورکړي او د نړۍ زیاتره سیاسي نظریې کېدلی شي چې د اسلامي احکامو په رڼا کې اصلاح شي او اصلاح شوي بڼه يې په ټولنو کې تطبیق شي.
پر دې سربېره هغه کسان چې له دین سره نیشنلیزم مخالف بولي د امت او ملت بحث رامخکې کوي، خو لکه څرنګه چې د اسلام په لمن کې د شخص، کورنۍ، قوم او ټولنې څخه انکار نشي کېدای او امت دا ټول پخپله غیږ کې نیولي همداسې د ملت له وجود څخه هم انکار ناممکن دی او اوسمهال موږ په خپلو سترګو وینو چې ډېرو ملتونو ته څرنګه اسلام پخپله غیږ کې ځای ورکړی، په پرمختللو هیوادونو کې د اسلام د چټکې خپرېدا یو لامل هم دا دی چې اسلام د ملتونو حقونو ته درناوی کوي او د ملتونو د حقونو د ترلاسه کولو لپاره د کومې سیاسي تګلارې، تیورۍ او ایډیولوژۍ مخالف نه دی.
نو موږ ته نه ده پکار چې د هرې نظریې او تیورۍ په مقابل کې د رد لستوني راونغاړو، په بې ځایه او ناسمو دلایلو يې داسې په مقابل کې ودرېږو چې د قرآن د سپېڅلو آیتونو او د نبوي مبارکو احادیثو په تحریف هم دریغ ونه کړو.
زما په اند لومړۍ باید د هرې نظریې په اړه فکر وکړو چې تر څومره حده د اسلام په لمن کې حل کېدای شي او څومره اصلاح ته اړتیا لري، خو که په بشپړ ډول د اصلاح وړ نه وه نو بیا کولی شو داسې تیورۍ په وړ او موثقو دلایلو رد کړو او دا روښانه خبره ده چې هره تیوري له اسلام سره په ټکر کې وي د انسانانو په ګټه نه ده.
وما علینا إلا البلاغ.

**تعلیق:**

د مېریم وېبستر [merriam-webster] په اړه مالومات په لاندې لینک کې ولولئ:

١. https://www.merriam-webster.com/about-us

د ملي دولت تعریف:

١. A nation state is a state in which a great majority shares the same culture and is conscious of it. The nation state is an ideal in which cultural boundaries match up with political boundaries. [Wikipedia the free encyclopedia].

٢. Nation-state, a territorially bounded sovereign polity—i.e., a state—that is ruled in the name of a community of citizens who identify themselves as a nation. The legitimacy of a nation-state's rule over a territory and over the population inhabiting it stems from the right of a core national group within the state (which may include all or only some of its citizens) to self-determination. Members of the core national group see the state as belonging to them and consider the approximate territory of the state to be their homeland. Accordingly, they demand that other groups, both within and outside the state, recognize and respect their control over the state. As the American sociologist Rogers Brubaker put it in Nationalism Reframed: Nationhood and the National Question in the New Europe (١٩٩٦), nation-states are "states of and for particular nations. [Britannica encyclopedia].

٣. دولتِ ملی یا ملت-دولت (به انگلیسی: Nation-State) (یا با نام عمومی‌تر آن، «کشور») نوع خاصی از دولت ویژهٔ جهان مدرن است که در آن یک دستگاه سیاسی در قلمروی ارضی معینی دارای حق حاکمیت است و


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

می‌تواند این حق را با قدرت نظامی پشتیبانی کند. در این نوع دولت، جمعیت کشور شهروند محسوب می‌شوند.[ویکیپیدیا دانشنامه آزاد].

٤. الدولة القومية nation state، هي دولة تتشارك فيها الغالبية الكبرى نفس الثقافة والوعي بالدولة. تعتبر الدولة القومية مثالية حيث تتوافق حدودها الثقافية مع حدودها السياسية.[١] حسب تعريفها، فإن "الدولة القومية هي دولة سيادية يتحد معظم رعاياها أيضاً بعوامل تحدد قوميتها مثل اللغة أو الأصل المشترك."[٢] وهو مفهوم أكثر دقة من "البلد"ن حيث أن البلد ليس بحاجة لجماعة عرقية مهيمنة.[موقع مرفه].

٥. دولة القومية أو الدولة الأمة (وأيضا الدولة-القومية) هي منطقة جغرافية تتميز بإنها تستمد شرعيتها السياسية من تمثيلها أمة أو قومية مستقلة وذات سيادة. الدولة هي كيان سياسي وجيوسياسي بينما دولة القومية هي كيان ثقافي وإثني. مصطلح "دولة القومية" يفيد التقاء وتوافق السياسي الجيوسياسي مع الثقافي والإثني معا، تَشكل "دولة القومية" يمكن أن يحدث في أوقات مختلفة وبقاع مختلفة من العالم.[ويكيبيديا الموسوعة الحرة].

په عثماني دور کې د عربي ژبې او ادب د حالت په اړه ځينې مقالې:

٦. https://www.startimes.com/?t=٨١٠٩٣٩٠
٧. https://aljazairi.ahlamontada.net/t٤٠٨-topic#:~:text=%D٩٪٨٨٪D٩٪٨١٪D٩٪٨A٪٢٠٪D٨٪A٧٪D٩٪٨٤٪D٨٪B٩٪D٨٪B٥٪D٨٪B١٪٢٠٪D٨٪A٧٪D٩٪٨٤٪D٨٪B٩٪D٨٪AB%D٩٪٨٥٪D٨٪A٧٪D٩٪٨٦٪D٩٪٨A٪٢٠٪D٨٪A٧٪D٩٪٨٤٪D٨٪B٠٪D٩٪٨A٪٢٠٪D٨٪A٧٪D٨٪A٨٪D٨٪AA%D٨٪AF%D٨%A٣,%D٩٪٨١٪D٩٪٨A٪٢٠٪D٨٪A٢٪D٨٪AF%D٨٪A٧٪D٨٪A٨٪D٩٪٨٧٪D٨٪A٧٪٢٠٪D٩٪٨٨٪D٨٪B٨٪D٩٪٨٧٪D٨٪B١٪٢٠٪D٨٪A٧٪D٩٪٨٤٪D٨٪B٤٪D٨٪B٩٪D٨٪B١٪٢٠٪D٨٪A٧٪D٩٪٨٤٪D٩٪٨٥٪D٩٪٨٤٪D٩٪٨٥٪D٨٪B٩
٨. https://debajh.wordpress.com/٢٠١٧/٠٩/٣٠/%D٨٪A٧٪D٩٪٨٤٪D٨٪A٣٪D٨٪AF%D٨٪A٨-%D٨٪A٧٪D٩٪٨٤٪D٨٪B٩٪D٨٪B١٪D٨٪A٨٪D٩٪٨A-%D٩٪٨١٪D٩٪٨A-%D٨٪A٧٪D٩٪٨٤٪D٨٪B٩%D٨٪B٥٪D٨٪B١-%D٨٪A٧٪D٩٪٨٤٪D٨٪B٩٪D٨٪AB%D٩٪٨٥٪D٨٪A٧٪D٩٪٨٦٪D٩٪٨A/
٩. https://sites.google.com/site/wwwmymoneycom/١١٢٢٢٢٤٤٦٥


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ